# نرم او سخت وریښمین کالي مه اغوندئ، او د سپینو او سرو زرو په پیالو کې څښاک مه کوئ، او مه یې په لوښو کې خوراک کوئ، ځکه دا د هغوی (کافرو) لپاره په دنیا او زموږ لپاره په آخرت کې دي

له عبدالرحمن بن ابي لیلی څخه روایت دی چې دوي له حذیفه سره وو، هغه اوبه وغوښتې، نو یو مجوسي اوبه ورکړې، کله یې چې لوښی په لاس کې ورکړ بېرته یې پرې وویشت او ویې ویل: که چېرته مې هغه یو یا دوه ځلې منع کړی نه و - لکه چې غوښتل یې داسې ووایې چې: داسې کار به مې نه و کړی- خو ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمایلي یې دي: «نرم او سخت وریښمین کالي مه اغوندئ، او د سپینو او سرو زرو په پیالو کې څښاک مه کوئ، او مه یې په لوښو کې خوراک کوئ، ځکه دا د هغوی (کافرو) لپاره په دنیا او زموږ لپاره په آخرت کې دي».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم نارینه د هر ډول وریښمو له اغوستلو منع کړي دي. او نارینه او ښځې یې د سرو او سپینو زرو په لوښو کې له خوراک او څښاک څخه منع کړي دي. او ویلي یې دي چې دا د قیامت په ورځ خاص د مومنانو لپاره دي؛ ځکه چې دوي په دنیا کې د الله تعالی د اطاعت له امله ترې ډډه کړې وه. او د کافرانو لپاره په آخرت کې ندي؛ ځکه هغوی په دنیوي ژوند کې د خپلو ښېګڼو په لاسته راوړلو کې بیړه کړې چې دا څیزونه یې کارولي، او د الله له امر څخه یې سرغړونه کړې ده.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2985

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee